# د عبدالحمید مومند او مرزا اسدالله خان غالب د مجازي شاعرۍ تقابلي جائزه

Dr. Nasrullah Khan Majnoon*

Dr. Fazal Sher**

**ABSTRACT**:

*Abdul Hameed Momand and Mirza Asad Ullah Khan Ghalib both are the classical poets of their respective language. Both are critical care, beauty praisers, romantic and had inclination towards the metaphorical poetry. They have closed similarity as for as metaphorical poetry is concerned. Both have given preference to metaphorical poetry in their poetry . In this Paper the author has been tried to describe the similarity factor of metaphorical poetry of both poets.*

حمیدبابا د پښتو شعر وادب هغه نامتو شاعر دے چې د شاعرۍ د ټولو نه لوړ خصوصیات ئې مضمون افریني او نازک خیالي ده ـ د هغه د شاعرۍ محور عشق دے او عشق ئې حقیقي نه بلکې مجازي دے ولې د مجاز نه پس د حقیقت په ګُلستان کښې هم ورګډ شوے دے چې په دغه موضوع ئې په دیوان کښې د اوچتې پائې شعرونه موجود دي ـ

دغه شان مرزاغالب د اردو ژبې او ادب یو داسې نامتو شاعردے چې د شاعرۍ کوکې ئې ورځ په ورځ زیاتیږي ـ د غالب شاعري هم لکه د حمیدبابا مضمون افریني او نازکخیالي لري ـ چې د شاعرۍ محور ئې لکه د حمیدبابا مجازي عشق دے ولې کله کله داسې حقیقي عاشق شي چې د صوفي ګمان

---

* Assistant Professor Pushto Department Abdul Wali Kahn University Mardan

** Additional Controller University of Peshawar

پرې کيږي ـ دواړه شاعران د خپلو خپلو ژبو نمائندګي کوي ـ په شاعرۍ کښې ئې په خصوصي توګه غزل هغه مقام ته رسولے دے چې د ګوتو نيولو ځائې پکښې نه موندے کيږي ـ

د دواړو د کلام ستره موضوع عشق دے او دا يو حقيقت هم دےچې د کوم شاعر په کلام کښې د عشق خبرې نه وي نو کلام ئې بې خونده وي او خلق ئې نه خوښوي ـ

ټول پوهان په يوه خلۀ دي چې عشق د ښکلا سره کيږي يا عشق د حُسن له برکته پيدا کيږي ـ د عشق ، ميني يا محبت په حقله د دنيا په واړو ژبو کښې ټولو شاعرانو، اديبانو او نقادانو ډيرې ژورې خبرې کړې دي ـ خو چې چا د عشق په حقله څه محسوس کړي دي يا ئې څه تجربه لرلې ده او يا ئې څه جذبات او تصورات پاتې شوي دي نو هغه ئې په خونده وره او خوږه ژبه کښې بيان کړي دي ـ ولې عشق څه مادي څيز نه دے چې د دې تعريف دې د ټکو په ذريعه وکړے شي ـ ځکه چې د عشق تعلق د روح او جذبې سره دے ـ مينه يا عشق د بنيادم بنيادي ضرورت دے او هر کار او مقصد لره عشق داسې ضروري امر دے لکه چې د انسان بدن له وينه يا روح لازمي وي ـ

د پښتو ژبې او ادب عظيم شاعر او لوئے ليکوال خوشحال خان خټک د عشق په حقله وائي:

له عشقه خبر نه يم چې عشق څه دے
هومره اورم چې له زه حُسنه ئې اثر دے۱

دغه رنګ د پښتو ژبې او ادب د ټولو نه هرد لعزيز صوفي شاعر عبدالرحمان بابا د عشق په حقله وائي:

دا جهان دے خدائے له عشقه پيدا کړے
لــه جملــهٔ مخلوقـــاتو پــلار دے دا۲

د اردو ژبې او ادب متصوفي شاعر ميرتقي مير د عشق په حقله وائي:

جوں حسن ہے اک فتنہ گر توں عشق بھی ہے پردہ در
وہ شہر عالم ہوا، میں خلق میں رسوا ہوا۳

د اردو ژبې او ادب بل شاعر ډاکټر علامه اقبال د عشق په حقله وائي چې :-

عشق کی گرمی سے ہے معرکہ ء کائنات
علم مقام صفات عشق تماشائی ذات

داورخان داؤد د عشق په حقله ليکي چې:-

,, په اصطلاح کښې عشق دې ته وائي چې څوک د بل په ظاهري حُسن خدوخال، ځوانۍ، قد او ناز و ادا باندې مئن شي او هر وخت د هغه د ښائست په تصور کښې ورک ليونے وي .د هغه د وصال ارزو لري او نه صرف ارزوبلکې د يار د ديدن دپاره دهر قيسم تکليفونو، تنګسو او بنديزونو نه مخ نه اړوي .دا صرف د زړۀ تعلق او مينه وي .چې يو د بل سره لري .دا عشق دا جذبه چې څنګه نن ده .دغسې به صبا له هم وي .او ترهغه به وي ترڅو چې د انسان سترګې بينا وي ، جذبات او احساسات ژوندي وي، هغه به همېشه د عشق په مئوو مست او سرشار وي.، ،۴

حميدبابا او غالب هم د عشق په حقله څه داسې نظريه لري

حميد بابا وائي:

دا دنيا ده خدائے له عشقه پيدا کړې
دې چمن په دې نسيم دې پردې سپړې۵

او غالب وائي:-

عشق سے طبیعت نے زیست کا مزا پایا
درد کی دوا پائی درد بے دوا پایا۲

مولانا جلال الدین رومي د عشق په حقله لیکي چې:۔

اگر اپ نے عشق نہیں کیا ہے تو اپنے اپ کو زندہ مت سمجھے اور روزِ اخرت
اس زندگی کو شمار نہیں کیا جائے گا ۔ ،،

حضرت سلطان باهو د عشق په حقله وائي:۔

محبت کا انتہائی مرتبہ عشق ہے ،،۷

غرض دا چې عشق هغه نعمت دے چې محبوب ته د رسېدو ذريعه ده، د فلسفې په اصولو هم د کائنات اجزاء د يوبل په کشمکش را يوځائې شوي دي او د کائنات تشکيل ئې کړے دے۔

عشق په ظاهر يو تورے دے خو په صحيح معنو کښې د دې تورې يا ټکي لمن دومره فراخه ده چې منطقي انجام ئې لاته دے معلوم شوے ۔عشق يو وجداني کيفيت دے حسن د قدرت يو داسې عظيم او ښکلے فن دے چې د ادب په ټولو فنونو کښې ئې غزونې کړې دي ۔ د حُسن د ټولو نه وړومبے عاشق انسان دے او انسان هغه هستې ده چې د عقل او شعور پېرزوينه پرې شوې ده او د نطق مرتبه ورته حاصله شوې ده نو ځکه د عشق جذبه د ټولو مخلوقاتو نه زياته په انسان کښې ده د انسان تيګه د حُسن د ستائنې له برکته اېښودے شوې ده مطلب دا چې د انسان په خته کښې له ازله اغښلے شوې ده۔

عشق يو لافاني جذبه ده او د دې له همه حقيقت نه انکار ناممکن دے عشق د ځان دے او که د جهان دے خو يو داسې نه فنا کېدونکے او ستر حقيقت دے چې په هر دور او هره زمانه کښې ئې هر چا زور او شور منلے دے۔ عشق يوه داسې موضوع ده چې که د فترې پرې ډکې شي ولې د عشق راز به فاش نه کړے شي او داسې سمندر دے چې ساحل ئې نه دے معلوم شوے۔ عشق د هر چا د خوښې موضوع ده د ادب په دنيا کښې خوهر شاعر د دې

موضوع نه چاپېره چورلي ـ يو شاعر تر هغه وخته پورې کامياب شاعر نشي ګڼلے چې کلام ئې د عشق په رڼا منور نه وي ـ هم په دغه شاعرانو کښې حميدبابا او غالب هم راځي چې په خپله خپله شاعرۍ کښې ئې د عشق حقيقت او واردات ځلاګانې او ګډاګانې کوي ـ عشق يو داسې مقام لري چې دا ځوک په زور کولے نشي بلکې په خپله کيږي دا يوه داسې جذبه ده چې مهارنه لري ځکه خو حميدبابا وائي:۔

محبت شدني کارؤ په ما وشو
نور دې نه شي په هېڅا دا شدني ۸

غالب وائي:۔

*عشق پر زور نہیں ہے یہ وہ آتش غالب*
*کہ لگائے نہ لگے اور بجھائے نہ بنے۹*

حميدبابا او غالب د حُسن و عشق شاعران وو په حُسن او عشق ئې سرونه قربانول ځکه چې

,, حُسن و عشق رعب لري حکم لري، يو داسې طاقت لري چې عاشق به هغه څۀ کوي چې څه حسن وائي څه چې عشق غواړي د اوسپنې سپلۍ به سولۍ پيريانو ديوانو سره به جنګونه کوي خو د خپل محبوب خواهېش به پوره کوي ـ حسن او عشق ته نۀ مۀ نشته ـ ډيل نشته او که وي نو حُسن او عشق نشته ـ حسن او عشق سره ژړا ده فرياد دے تکليفونه اوکړان دے خو بيا هم په خلقو ګران دے او هر څوک ئې غواړي ـ موسيقي هم د دې له برکته ده او د شاعرۍ خو روح هم دغه دے ـ،، ۱۰

د حمیدبابا او غالب کلام هم له دې قیسمه اشعارو نه ډک دے۔ چې څه ورته د محبوب حُسن وائي هغه کوي نه په دین دي نه په دنیا دي نه په مال دي نه په سر دي خو بس! خپل محبوب خوښوي۔

حمیدبابا وائي:۔

یو خسنیے برد مینې په سودا کښې
اړ په دین او په ایمان نه یم هرګز ۱۱

غالب وائي:۔

*ہم کیا کہیں کسی سے، اپنا طریق کیا ہے*
*مذہب نہیں ہے کوئی، ملت نہیں ہے کوئی* ۱۲

د عشق په لار کښې اکثر او همیشه رقیبان او غمازان خنډونه جوړېږي او دا خنډونه په عاشق ښهٔ نه لګې هم دغه رنګ د حمیدبابا او غالب سره شوې ده چې دغه قیسمه خلقو ورله معشوقې څه داسې لمسولې وي چې دواړه عاشقان ئې په دې وېنا مجبوره کړي دي۔ حمیدبابا وائي:۔

واقع شوے دے بیا کوم تقصیر له ما
چې تیرېږي دلربا د لګیر له ما
زیات و کم به وي رقیب ورته وئیلي
دې بې شرمه بې حیا کاسرله ما ۱۳

بل شعر دے:۔

یار په بند د رقیبانو لاړ پوهېږم
چې له ما ئې هغه عهد هغه خوئې لاړ ۱۴

بل شعر دے:۔

خود په خود راسره یار په کړو سر شو
که په بده لمسولے دے اغیار نن ۱۵

او یا دا چې:۔

دا پندونــه د رقيــب نــه دي نــور څــه دي
چې دې نه لګي په غـوږ زمـا پندونـه ۱۲

دغه رنګ غالب خپل دغه مقصد په لاندېني شعر کښې داسې ښکاره کوي:-

ہو گئی ہے غیر کی شریں بیانی کارگر
عشق کا اُس کو گماں ہم بے زبانو پر نہیں ۱۷

د حميدبابا او غالب معشوقې دومره ډېرې ښائسته وې چې دواړه عاشقان ئې د حُسن په ليدو نه مړېږي د جنت حورې د هغوي ښائست ته نه رسي ځکه خو حميدباباوائي:-

ډېـر سـتائلې شـيخ مـلا د جنـت حـورې
چې مې وليـدې مخـے دا ستا يـؤ نـۀ دے ۱۸

غالب وائي:-

کم نہیں جلوہ گری میں ترے کوچے سے بہشت
یہی نقشہ ہے، ولے اس قدر آباد نہیں۱۹

بل شعر دے :-

سامنا حور و پری نے نہ کیا ہے، نہ کریں؟
عکس تیرا ہی مگر، تیرے مقابل آئے۲۰

د حميد بابا د شعر په حقله عابدشاه عابد ليکي چې:-

,, غرض دا چې د حميدبابا شعر د عشق ، مينې لطافت، سادګۍ او د سلاست سره سره د رنګينۍ او نازکخيالۍ يو ښکلے امتزاج دے ځکه خو په خپله وائي:

څـه عجـب سـاده رنګـين وائـې حميـده
دا زرې فکـر دې مـه شـه نظـرې ،، ۲۱

حمیدبابا او غالب دخپل خپل محبوب په صفتونو نه مړیږي ۔دواړو ته د محبوب په خوا کښې ناسته یا دهغه د دېوال سوري خواته ناسته څه داسې ښکاري لکه چې:

حمیدباباوائي:۔

هغه دم شاهي جهان شم په دماغ کښې
چې له ښکلیو سره کېښنم په نوروز ۲۲

بل شعردے:

چې ئې تاغوندې دلبرپه څنګ کښې کېښني
دهغو د ماغ بلند وي تر اورنګه

بل شعر دے :

هر چې تاغوندې دلبر ئې په څنګ کېښني
د پښو په ځائے هغو ته اورنګ کېښني

بل شعر دے چې:۔

په قوت د یار د در د ګدایئ
د اورنګ بادشاه د تخت لاندې مواس شوم۲۳

او غالب څه دا رنګ وېنا کوي چې :۔

بیٹھا ہے جو کہ سایہء دیوارِ یار میں
فرماں روائے کشورِ ہندوستان ہے ۲۴

عاشق تل بې قراره وي او چرته ورله هم سکون نه راځي ۔تول عمر د محبوب وصال ته شپې ورځې تېروي ۔ولې دا ازلي لیک دے چې د هر عاشق سره داسې کېږي حمیدباباوائي:۔

څوک دې صبر ارام نه غواړي په عشق کښې
د ازل کاتب دي ښکلي په دا باب سخت ۲۵

غالب وائي:۔

جب ازل میں رقم پزیر ہوئے
صفحہ ہائے لیالی و ایام
اور اُن اوراق میں بہ کلک قضا
مجملاً مندرج ہوئے احکام
لکھ دیا شاہدوں کو عاشق کش
لکھ دیا عاشقوں کو دشمن کام ۲۲

ولې بیاهم دواړه مئینان په خپلو خپلو معشوقو سرونه شیندي او د سرڅه پروا نه کوي۔ او نه ملامتیا مني۔ حمیدبابا وائي:۔

که باز مه سر او مال په دلبرانو
ملامت په دې جهان نه یم هرګز ۲۷

غالب وائي:۔

اسد بسمل ہے کسی انداز کا قاتل،سے کہتا تھا
کہ مشقِ ناز کر خونِ دوعالم مری گردن پر ۲۸

او که چرته معشوق په خپلو لاسو حمیدبابا او غالب قتلول او غواړي نو بیا ورته دواړه داسې تیټ سر ولاړ وي لکه چې حمیدبابا وائي:۔

که اشنا د حمید مرګ ته دے زړۀ کړے
په ښۀ کار کښې دے څه ډیل او توقف ۲۹

غالب وائي:۔

محابا کیا ہے میں ضامن ادھر دیکھ
شہیدانِ نگہ کا خون بہا کیا ۳۰

ډاکټر سیدعبدالله د غالب په حقله لیکي چې:۔

" ان کے غزل میں تناسب اور حُسن کی زیادہ سے زیادہ صفات پائے جاتے ہیں
ان میں زندگی کی تڑپ بھی ہے اور غم کا احساس بھی، ان میں نغمہ بھی ہے اور
مصوری بھی، ان میں سادگی بھی ہے اور پرکاری بھی. ، ، ۳۱

عاشق د خپل معشوق دومره فرمانبرداره وي او دومره ئې په هره ناز و اده میئن وي چې که د معشوق د خلې نه ورته کنځل اوځي نو عاشق ته دغه شهدو شکرې ښکاري

غالب وايي

کتنے شیریں ہیں تیرے لب کہ رقیب
گالیاں کھا کے بے مزا نہ ہوا ۳۲

حمیدبابا دغه مضمون داسې بیانوي چې:-

راکـــــوي مبـــــارکي فربنـــــتګانې
هغه وخت چې راته یارشي په ښکنځل سر ۳۳

د حمیدبابا او غالب کلام د داسې شعرونو نه ډک دے کوم کښې چې د فطرت حُسن، د قدو ګسو حُسن او اثر، د جمال ذوق د انسان حُسن په ښائسته رنګ بیان شوي دي دا هغه څیزونه دي کوم چې د روزمره ژوند سره تعلق لري. دواړو په دومره ښه طریقه دغه قیسم اشعار رقم کړي دي چې د ژوند تراخه په خواږه بدلوي. سترګو له شادابي ورکوي ، زړۀ له خوشحالي ورکوي او دماغو له سکون ورکوي او کوم کار چې یو مصور د تصویر جوړولو په وخت د برش او سیاهي نه اخلي حمیدبابا او غالب دغه کار دخپل تخئل ، خوږې ژبې او جدا اسلوب نه اخستے دے. کله چې لوستونکے دغه قیسمه اشعار لولي نو یو مجسم تصویر ئې مخښې ته جوړېږي او د جمال ذوق ئې پوره کیږي. د دواړو شاعري په تشبیهاتو استعارو، کنایو باندې دومره په ښۀ طریقه سمبال ده چې جواب ئې نشي کیدے لکه چې حمیدبابا د یار د خط په حقله وائي:

په راتلـه د يـار د خـط يـاران پـه دوک شـي
بـاغ چې وتـو کيږي لاباغوان پـه دوک شي ۳۴

او غالب د يار خط څه دا رنګ ستائيلے دے.

آمدِ خط سے ہوا ہے سرد جو بازارِ دوست
دودِ شمع کشتہ تھا شاید خط رخسارِ دوست ۳۵

د غالب په حقله حمدالله جان راهي ليکي چې:۔

,, د غالب د کلام د ټولو نه اولنۍ او لويه خوبۍ د هغه د وينا انداز دے د دې خوبۍ په وجه دهغه په شاعرۍ باندې د لوړوالي محل جوړ شوے دے غالب د خپل کلام صفت په دا رنګ کوي.

ہیں اور بھی دنیا میں سخنور بہت اچھے
کہتے ہیں کہ غالب کا ہےاندازِ بیان اور .''

کله چې په شعر کښې تشبيح او استعارې راوړے شي نو د شعر خوند او رنګ يو په دوه شي او د شعر معنوي حُسن زيات او اثر ناک شي ، حميدبابا او غالب رومانې شاعران وو۔ حُسن پرستي ، فطرت پرستي، عشق مجازي،امرد پرستي، شونډې ، زلفې خال و خط، غرض دا چې په غزل کښې ئې ګڼ شمېر موضوعات ځائې کړي دي او دغه هر څه تـه ئې د ښکلو تشبيهاتو او استعاراتو رنګينې جامې وراغوستي دي ـ مجازي عشق او مجازي معنې چې کله د نازک خيالۍ په لاره شعرته راشي نو بيا دحقيقت سره ئې پېژندګلو نه کيږي ـ

حميدبابا د يار د تنګي خلې په حقله وائي:۔

چې ئې ستا د تنګې خلې تصور واخسيت
په دې فکر کښې غنچۀ شوه په زړۀ تنګه

غالب وائي:۔

دہن اسکا جو نہ معلوم ہوا
کھل گئی ہیچ مدانی مری

دغه رنګ دواړو شاعرانو د زلفو مضمون هم چېړلے دے ځوک ورته ماران وائي او ځوک ورته زنځيرونه وائي۔ د حميدبابا شعرونه دي۔

دغه خپلو اوږدو زلفو ته نظر کړه
حواله مې په زړګي دے منګور هومره

او د غالب په دې حقله دا شعرونه دي چې:۔

بتائیں ہم تمھارے عارض وکاکل کو کیا سمجھے
اسے ہم سانپ سمجھے اور اسے من سانپ کا سمجھے

دغه رنګ دواړه نازکخياله شاعران د وروځو په حقله وائي:۔

حميدبابا وائي:۔

چې ريبې مې بې صرفې د زړګي ولې
کږې وروځې دي د يار که لور دے دا

دا د يار د وروځو خيال دے نه پوهيږم
که لړم مې تکوي زړۀ په لشو

غالب وائي:۔

کس دل پہ ہے عزمِ صفِ مژگان خود آرا
ائینے کی پایاب سے اتری ہیں سپاہیں
دل میں ہے یار صفِ مژگاں سے روکشی
حالانکہ طاقتِ خلشِ خار بھی نہیں
بتاؤ، اُس مژہ کو دیکھ کر کہ مجھ کو قرار
یہ نیش ہو رگِ جاں میں فرتو کیونکر ہو

بل شعر کښې وائي:۔

خلش غمزهٔ خونریز نہ پوچھ
دیکھ خونابہ فشانی میری

غـرض دا چې د حمیـدبابا او مـرزا غـالـب پـه خپلوخپلو ادبیـاتو کښـې لوړمقـام د ے ـ دواړه شـاعران د یـو ځانله فکر او سبک څښتنان دي ـ د دواړو شاعري د ګڼو خوبو سره مخ ده ـ کـه دواړو یوطرفتـه غـزل معـراج تـه ورسـولو نو بلخوا ئې پښتو او اردو شعرو ادب د نوؤ خیالونو، نادرو تشبیهاتو او د محـاورو او متلونو په برجسته استعمال سره ډک کړو ـ ښکلے او رنګین کړو ـ

د دوې دغه شاعري نه یواځې په خپلو خپلو ادبیـاتو کښـې دوې لـه لـوړ مقام ورکړو ـ بلکې په بهرني هېوادونو کښې هم د دواړو شاعرۍ ته خلق په درنـه سترګه ګوري او خلق ورته د نازکخیالۍ استاذان، اوموشګاف وائي ـ د دواړو مینه ډېره زوره وره وه په ځوانۍ کښې ئې سپین ږیري کړي وو ـ او دغـه احسـاس دواړو په خپلو شعرونو کښې ظاهر کړے د ے لکه چې حمیدبابا وائي:

سـپنې ږیـرې زمـا عشـق کوتـه پیسـه کـړه
هـیڅ ئـې نـه قبلـوي ښـکلي پـه سـودا کښـې
پـه ځـوانۍ د عشـق غمونـو حمیـد زوړ کـړو
بې مودې ئې ږیره سپینه شوه ملاغبرګه ۳۲

او غـالب وائي:

حسرت اے ذوقِ خرابی کہ وہ طاقت نہ رہی
حق پرُ عربدہ کی گوں تنِ رنجور نہیں
مند گئیں کھولتے ہی کھولتے انکھیں غالب
یار لائیں مرے بالین پہ اُسے پرکس وقت

کر دیا ضعف نے عاجز غالب
ننگِ پیری ہے جوانی مری

چھوڑ نہ مجھ میں ضعف نے رنگ اختلاط کا
ہے دل پہ بار نقشِ محبت ہو کیوں نہ ہو ۳۷

ترڅو چې د پښتو او اردو ژبه کښې شعر وشاعري کيږي ـ نو د حميدبابا او غالب نامې به هم ژوندی وي او دهغوي شاعري به د راتلونکو شاعرانو د پاره د لارې مشالونه وي او هغوي په ترې استفاده او زده کړه کوي ځکه چې دواړو شاعرانو ته دومره لوړ مقام حاصل دے چې دغه احساس هغوي په خپله هم محسوس کړے ؤ لکه چې حميد بابا وائي:۔

قدر دان جوهري بويه چې ئې اخلي
حميد څه دُروګوهر کړه برسېر ګوره ۳۸

غالب وائي:۔

گنجینۂ معنی کا طلسم اُس کو سمجھیے
جو لفظ کہ غالب مرے اشعار میں آوے ۳۹

حميدبابا وائي:۔

چې هيچرې په فارسۍ کښې مونده نه شي
هسې ساز دے حميد ايښے په پښتو کښې ۴۰

غالب وائي:۔

جو یہ کہے کہ ریختہ کیوں کے ہو رشک فارسی
گفتۂ غالب ایک بار پڑھ کے اُسے سنا کہ یوں ۴۱

# حوالې


۱. ختټک یارمحمد ، مغموم ، ډاکټر، د خوشحال کلیات ، یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۲ء ، مخ ۷۹۲
۲. سید رسول رسا ، عبدالرحمان بابا دیوان ، یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، ۱۹۷۲ء ، مخ ۱۵
۳. کلب علي خان ، کلیات میر ، جلد دویم ، مطبع مکتبه جدید پریس لاهور ، ۱۹۹۱ء ، مخ ۴۹
۴. داؤد ، داور خان ، رحمان بابا ژوند ، تعلیمات او شاعري ، یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، ۱۹۸۳ء ، مخ ۲۱۸
۵. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۴۷۱
۶. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن ، مخ ۲۵
۷. سید احمد شهید همداني ، حضرت سلطان باهو، حیات التعلیمات ، حضرت سلطان باهو اکیډیمي لاهور ، دویم چاپ ، فروري ۲۰۰۵ء ، مخ ۱۴۰
۸. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۲۵۲

۹. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن ، مخ ۲۲۱
۱۰. سائل خواجه،عبدلحمیدبابا ،عظیم پبلشنګ هاوس ،خیبر بازار پېښور،۱۹۸۵ مخ ۱۲۲
۱۱. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۷۲
۱۲. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن ، مخ۱۰۱
۱۳. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۶،۱۷
۱۴. هم دغه اثر مخ ۲۷
۱۵. هم دغه اثر مخ ۱۳۸
۱۶. هم دغه اثر مخ۲۱۴
۱۷. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن ، مخ۳۵۱
۱۸. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۲۱۹
۱۹. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن ، مخ۳۴۳
۲۰. هم دغه اثر مخ ۹۰۲
۲۱. اولس کوئټه میا شتیزه ، د حمیدشعر، عابدشاه عابد، ګڼه ۲ کال مارچ ۱۹۸۳ء مخ ۱۸
۲۲. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۷۳
۲۳. هم دغه اثر مخ ۱۲۸

۲۴. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ ۴۶۵
۲۵. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۳۹
۲۶. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ ۷۷۴
۲۷. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۷۲
۲۸. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ ۲۳۰
۲۹. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۰۱
۳۰. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ ۸۸
۳۱. ډاکټر سید عبدالله، ولی سے اقبال تک، سنگ میل پبلیکشنز، لاهور، ۲۰۰۳ء مخ ۲۰۲
۳۲. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ۱۰۷
۳۳. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ۶۲
۳۴. هم دغه اثر مخ۲۳۵
۳۵. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شیخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ۱۸۹

۳۶. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ۱۹۶
۳۷. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شېخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ۴۰۸
۳۸. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ۱۷۸
۳۹. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شېخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن مخ۵۲۸
۴۰. صمیم محمد اصف ، د عبدالحمید مومند کلیات ، سریزه او څېړنه ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۸ء ، مخ۲۴۵
۴۱. میر، مولانا غلام رسول ، نوائے سروش ( دیوان غالب ) شېخ غلام علي پرنټرز لاهور، س، ن،مخ ۵۹۹